انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱۸/۱۱/۱۲

# د سولې د پاره د مسکو غونډه او هیلې

د متحده ایالاتو دولت د جمهوررئیس دویم بوش د واکمنۍ په وخت کې په افغانستان نظامی حمله وکړه، د طالبانو واکمنی یی په دی بهانه چی د القاعدی تروریستی ډلی ته یی په خپل قلمرو کی پناه ورکړیده، پای ته ورسوله او د جرمنی د بن په ښار کی یی په خپله خوښه یوه غونډه جوړه کړه او کم یا لږ ناپیژندل شوی حامد کرزی یی د افغانستان د پاره په مؤقته توګه مشر و ټاکه. امریکا د خپلو راتلونکو ګټو د تامین او د سیمی د کنترول د پاره په افغانستان کی د نظامی هډو د جوړیدو کار پیل که. د دی د پاره چی دافغان ولس توجه بلی خواته واړوی نو د افغانستان د بیا رغونی د پرګرام لاندی یی د خپلو ټولو نړیوالو انډیوالانو خصوصاً د ناتو د نظامی ډلی نه، هم دپوځی او هم د مالی مرستو غوښتنه وکړه او په دی توګه په پراخه پیمانه مالی مرستی د افغانستان سره پیل شوی. تر ۲۰۰۳ م کال پوری د کرزی صاحب په مشری ټولی مرستی د هماغو ډلو تر منځ تقسیم اود نظام ټول چارواکی د دی مرستو په چور او چپاول باندی مصروف وو او له صحنی نه دوتلی طالبانی قوت د بیا انسجام په هکله یی نه فکر کاوه او نه په دی پوهیدل چی د طالبانو د ماتی د اولی ورځی نه پاکستان د خپلو ګټو د ساتنی د پاره که له یوی خوا امریکا ته په طالبانو باندی د حملو په منظور خپله جغرافیه په کرایه ورکړی وه، نو له بلی خوایی د دی ډلی ټول مشران د القاعدی مشرانو په شمول په خپله غیږه کی د آی اس آی تر حمایی لاندی راټول کړل او د بیا تخریبی کړو وړو د پاره یی پری کار پیل کړی و. امریکا هم د کرزی تر مشری لاندی ټوله اداره او د اداری واکمنان داسی د فساد او چور په لوری سوق کړی و چی د استاد ربانی د واکمنۍ د دوری چور او چپاول هم ورته په دوه لاسی سلامی شو.

داسی ادعاوی هم شته چی امریکا د پاکستان په غوښتنه یا هم پاکستان د امریکا په غوښتنه د طالبانو د بیا فعالولو د پاره د ځینو عربی هیوادونو سره اړیکی ونیوی او د هغوی په مرسته یی طالبانی مات شوی طاقت بیا را منظم کړ او په افغانستان کی یی یوه تر ټولو توره جګړه بیا را پیل کړه. دی تخریبی اعمالو امریکا ته د دی بهانه جوړه کړه چی په افغانستان کی دایمی نظامی هډې ولری او خپل دایمی حضور او نظامی شتون ته مشروعیت ور کړی. دی توری معاملی او نا معلومی لوبی باندی د یوینیمی لسیزی تر تیریدو وروسته، د سیمی نورو هیوادونو لکه چین، روس، ایران، هندوستان او د منځنی اسیا هیوادونو هم د خپلو خپلو ګټو د ساتنی په منظور ورو ورو د افغانستان په مسئله کی ځانونه را ګډ کړل. په غونډو او مجلسونو کی یی په دی باندی خبری پیل کړی چی امریکا د دی د پاره افغانستان



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

ته نه ده راغلی چی د نړیوال تروریزم د انتشار مخنیوی وکړی بلکی د دی د پاره یی دلته منګولی ښخی کړیدی چی په سیمه کی د خپلی خوښی حکومتونه ولری او دنیا د تل د پاره د خپل تسلط او تفتیش لاندی د یوه یکه تازه قدرت په توګه و ساتی. لوبی ته د نوو داخلو شوو هیوادونو په منځ کی د روس او ایران دولتونه لا د مخه د سوریی په هیواد کی د امریکا د غوښتنو په خلاف په مخامخ جګړی کی ورګډ شوی وو، دوی دا ادعا هم لری چی د داعش تر ټول وحشی او افراطی اسلامی ډله هم د سعودی د دولت په مرسته او غوښتنه د امریکا تر حمایی لاندی ده او غواړی چی هغه د ایران د دولت په ضد و کاروی او د روس او چین د هیوادونو د تهدید د پاره یی د منځنی اسیا جغرافیی ته ور نقل کاندی.

ډیر سیاسی شنونکی په دی باور دی چی دروس، چین او ایران دولتونو د منځنی اسیا د هیوادونو په ګډون، د همدی درک له مخی د پاکستان د هیواد سره د جمهوررئیس دونالد ټرمپ له واک ته رسیدو او په پاکستان باندی د مرستو د محدودیت نه وروسته، اړیکی برقراری کړی او هغه یی دی ته و هڅاوه چی د دوی مناسبات د طالبانی حلقو سره را منځ ته کړی. پاکستان چی د چین سره اوږدی دوستانه اړیکی لری او روس چی اوس په منطقه کی د چین ستراتیژیک ملګری دی، پاکستان هم ورته نژدی شویدی، نو د دوی غوښتنی ته یی له دی کبله مثبت ځواب ورکړچی امریکا ته وښای چی که د پاکستان له ملګرتیا فاصله ونیسی د ګټی نه به ورته تاوان ډیروی او همدارنګه هندوستان ته هم څرګنده کړی چی پاکستان د دی توان لری چی د روس د دولت نه هم د ځان په ګټه کار واخلی.

ظالبان چی د پاکستان محصول او د هغوی د مستقیمی حمایی لاندی خپل سیاسی او نظامی ژوند ته ادامه ورکوی، دی ته اړدی چی پاکستان څه ورته وایی ویی منی.

د روس دولت چی اوس ورو ورو په نړیواله سویه ځان دی ته را جوړوی چی بیا د یوه زبرځواک په توګه د امریکا په مقابل کی ځان ته تبارز ورکړی، او د دی تبارز د پاره په دی روانو حالاتو کی د افغانستان د دولت د سولی کشاله چی تر ټولو لویه نړیواله مسئله ده، هسی یوه لاره ده چی که روس پکی ځان راشریک کاندی او څه مثبته نتیجه تر را ووځی، بیا بی له شکه چی نور امریکا دا امتیاز د لاسه ورکوی چی نړیوالی معضلی په خپله خوښه او خپل سر په یکه تازی سره حل وفصل کاندی.

زما په نظر اوس د افغانستان د سولی مسئله د نړۍ د ټولو لویو قوتونو د پاره د لوبی د ګټلو او بایللو یو هسی میدان جوړ شوی چی هره لوبغاړۍ ډله په ټول توان سره زیار کاږی چی تر ټولو ښه پایله تر د لاسه کاند.

په مسکو کی د داسی یوی غونډی جوړیدل چی د افغانی کشالی دواړه اړخونه پکی برخه اخلی او یو بل ته غیږه ورکوی د روسانو د پاره یو لوی بری دی. د دی غونډی په پرانستونکی وینا کی د روس خارجه وزیر سرګی لاروف و ویل چی « دا غونډه روسی جوړه کړیده او روسیه غواړی چی افغانستان ته دسولی په راوستلو کی اساسی او جوړونکی برخه ولری»
د متحده ایالاتو دولت هم لاس ترزنی نه دی ناست، د دی دولت خارجه وزیر په یوه اعلامیه کی دروس په ابتکار دی غونډی ته د کم ارزښت ورکول د پاره ویلی دی چی : « د مسکو غونډه به په افغانستان کی د سولی راتلو د پاره کومه ګټه و نه رسوی.» د دی سره سم یی لا د پخوا نه خپل یوه په حالاتو خبر کارپوه زلمی خلیلزاد چی له پیله په دی لوبه کی ګډون لری د سولی د خبرو د پاره منطقی ته لیږلی دی، تر اوسه یی د طالبانو سره څوکرته پټی او ښکاره خبری

کړیدی، د پاکستان او افغان دولتونو سره یی هم  په همدی هکله لیدنی کتنی سرته رسولی دی او هیله څرګنده کړیده چی د سولی دا ماموریت به یی ځه ګټوری پیلی و لری.

د طالبانو له وضعیت نه هم سړی داسی پوهیږی چی د جګړی دا برخه هم اوس د پخوا په نسبت، له دی کبله چی د جنګ ته په دوام ورکولو بری ته نه شی رسیدلی دی ته لیوال ښکاری چی د خبرو له لاری، هر څومره چی کولی شی، غوښنه او پنډه برخه تر د لاسه کړی، نو ځکه هم د امریکی سره، هم د روس سره او هم د نورو هیوادو او هم د افغان دولت له خواو سره خبری کولو سره موافقه کوی او لګیادی په دی کار کوی چی د چنو په وهلو سره په ښو شرایطو کی سولی ته ځان ورسوی.

افغان دولت چی لا د پخوا نه د سولی د پاره لیوال و، که څه هم سولی ته د رسیدو د پاره کوم مشخص دریځ نه لری او شاید دومره پوره واک هم ورسره نه وی چی د سولی د پاره کوم خاص شرایط وړاندی کړلی شی، خو بیاهم زیار کاږی چی د خپلواک او توان په اندازه د سولی د تامین په برخه کی ګامونه واخلی او دی جړی مشوړی ته چی افغان ولسونو ته تباهی راوړی او نور تری کټه پورته کوی د پای ټکی له هره اړخه چی وی کیښنول شی.

دی حالاتو ته په کتو سره سړی داسی پوهیږی چی اوس په افغانستان کی د سولی دتامین د پاره له افغانانو نه نړیوال ځواکونه ډیره لیوالتیا لری، نو ځکه تقریباً ټوله نړی په دی تلاش کی ده چی دا سوله هسی تامین شی چی دوی ته په ګټه تمامه شی. داچی کله اوځنګه به دا سوله تامین شی مجبوریو چی وخت ته منتظر پاتی شو، ځکه په دی برخه قطعی حکم هیځوک نه شی‌کولی چی کله او ځنګه سوله به رامنځ ته کیږی؟ یوازی همدومره پوهیدلی شو چی سولی ته ور نژدی شوی یو او که د الله ج رضاوی او کومه بله نوی معضله را پیدا نه شی نو ډیری به مو انتظار شیبی اوږدی نه وی. خیر دی وی.

پای